# د حاجي ابراهيم د قلمي نسخې "معراج العارفين" تحقيقي جائزه

# Miraj-ul-Arifeen (Manuscript) of Haji Ibrahim: A Reseach Study

Dr.Saeed Ahmad Sahil*

**Abstract:**

Haji Ibrahim was the son of Mullah Syed Wali Dad and was born at the beginning of the 11th century AH. His ancestor, Syed Safar Paranda (also known as Pir Paranda), migrated from Damascus, the capital of Syria, around the beginning of the 8th century AH. After first settling in India, he eventually moved to the region of Yousafzai, where he established a permanent residence and actively engaged in teaching and spiritual guidance. Due to his extensive travels, he became popularly known by the titles “Safar Paranda” and “Pir Paranda.” In the 13th generation of his descendants comes Haji Ibrahim, a renowned scholar of his time, a practicing Sufi, a distinguished poet of unique style and an exceptional prose writer. He was a devoted disciple and follower of Mian Yar Muhammad Papini, the spiritual successor of Syed Adam Banuri, in the Naqshbandiyya-Mujaddidiyya-Banuriya Sufi order. His poetic and prose works clearly reflect the stylistic influence of Akhund Darweza. In Pashto, Haji Ibrahim authored two poetic books: “The Tale of King Zaqqum” and “The Tale of Saif-ul-Muluk”. In addition to these, he left behind a voluminous manuscript titled “Miraj-ul-Arifeen”, which comprises a rich collection of scholarly and literary treatises. At the end of two treatises within the manuscript, the years of composition are recorded as 1075 AH and 1078 AH. While the majority of these treatises are written in Arabic and Persian, the manuscript also includes notable samples of Pashto poetry and prose.

**Keywords:** Miraj-ul-Arifeen, Manoscript, Haji Ibrahim, Literature, Pashto, Persion, Arabic Treatises

بنيادي طور دا مقاله په دوه برخو مشتمل ده ـ په وړومبۍ برخه کښې د حاجي ابراهيم په ژوند او د "معراج العارفين" نه علاوه په نورو آثارو د مختلفو مصادور په رڼا کښې بحث

---

* subject Specialist Elementry and Secondry Education Khyber Pakhtunkhwa,GHSS Khal District Lower Dir .

شوے دے او په دویمه برخه کښې د حاجي ابراهیم په ضخیمه قلمي نسخه "معراج العارفین" او د دې په مندرجاتو بحث شوے دے ۔

**د حاجي ابراهیم ژوند او آثار:**

حاجي ابراهیم د ملا سید ولي داد په علمي او روحاني کورنۍ کښې دې نړۍ ته سترګې غړولې دي ۔ د دوي جد اول سید سفر پرنده (پیر پرنده) چې د خپلې زمانې یو لوے روحاني شخصیت وۀ او د ملکِ شام د موجوده دارالخلافې دمشق څخه شاؤخوا د اتمې صدۍ هجرۍ په شروع کښې هند او بیا د یوسفزو سیمې ته راغلے وۀ ۔ دلته په مستقله توګه استوګن شۀ او د درس و تدریس فریضې ته ئې دوام وبخښلو ۔ د مختلفو اسفارو په بنیاد په سفر پرنده او پیر پرنده باندې معروف وۀ ۔ میا عبدالرشید اخونخېل په دې حقله لیکي:

"حضرت سید پرنده بابا علیه الرحمته په اصل نسب سید وۀ ۔ په ډېرو لویو لویو اولیاؤ بزرګانو کښې شماریږي ۔ دے د شام د ملک دمشق علاقې نه د تبلیغ اسلام د پاره راوتلے وۀ ۔ په هر ملک وطن به ګرځېدلو ۔ سید پرنده یعني هوائي مارغه ډېر پخوانے مبلغ، ولي الله، لوے عالم فاضل صوفي بزرګ وۀ، جره وۀ ۔ هر کله چې سوات ته راغلو نو سوئي ګلې نوم ځاے کښې چې غرئیزه او ځنګلي قبائلو علاقه وه، په هغې کښې مستقل استوګن شۀ ۔ هلته یوه قدرتي چینه جاري وه ۔ د چینې په خوا کښې ئې جماعت شریف اباد کړۀ او د هغې چینې اوبۀ ئې په جماعت شریف کښې دننه راوستلې او ځان له ئې په جماعت شریف کښې دننه جدا خلوت خانه د خپلو اوسېدو ځاے جوړ کړۀ ۔ په درس ورکولو او د خواؤشا کلو ته په تبلیغ تدریس کښې مشغول شۀ ۔ هم هلته وفات شوے دے ۔ شاندار مزار مبارک اوچت ګنبد لري ۔ ډېر مجاورن خادمان لري چې د مېلمنو هر قسم خدمت کوي ۔ حضرت سید پرنده بابا علیه الرحمه مرجع ئې اولسات دے ۔ په سید پرنده بابا علیه الرحمه و الغفران یادیږي"۔[1]

د میا عبدالرشید اخونخېل په پورتني اقتباس کښې د سید سفر پرنده (پیر پرنده) په حقله دا دعوه چې هغۀ جره یعني مجرد وۀ، په تاریخي حواله سمه نۀ ښکاري ۔ د ګڼ شمېر تاریخي شواهدو نه دا جوتیږي چې سید سفر پرنده (پیر پرنده) صاحبِ اولاد روحاني بزرګ

وۀ چې په اولاد کښې ئې يوه معروف علمي، روحاني او ادبي شخصيت حاجي ابراهيم هم وۀ ـ حاجي ابراهيم په ديارلسم پُشت کښې د دې سيد سفر پرنده (پير پرنده) په اولاد کښې راځي ـ حاجي ابراهيم چې په "معراج العارفين" کښې خپل کوم شجرۀ نسب ليکلے دے نو په هغې کښې ئې د سيد سفر پرنده (پير پرنده) د پلار نامه شيخ نصرالدين شامي ليکلې ده ـ لۀ دې نه هم دا څرګنديږي چې د دوي نيکۀ سيد سفر پرنده (پير پرنده) لۀ ملکِ شام څخه دې سيمې ته راغلے وۀ او دلته استوګن شوے وۀ ـ حاجي ابراهيم په "معراج العارفين" کښې خپل شجرۀ نسب په اتۀ ويشت واسطو سره حضرت علي رضي الله ته داسې رسولے دے:

"حاجي ابراهيم ابن سيد ولي داد ابن سيد يحي ابن سيد رحيم داد ابن سيد سبز علي ابن سيد شيخ توغان ابن سيد شيخ سلطان ابن سيد شيخ غازي ابن سيد شيخ حاجي ابن سيد شيخ عمر ابن شيخ عبدالکريم جندموي ابن سيد شيخ ظفر ابن سيد شيخ سفر پرنده ابن سيد شيخ نصرالدين شامي ابن شيخ عبدالکريم ابن سيد شيخ امير ابن سيد شيخ يوسف ابن سيد شيخ حشر ابن سيد شيخ نشر ابن سيد شيخ احمد ابن سيد شيخ محمد ابن سيد شيخ جامل ابن سيد شيخ سلطان ابن سيد شيخ امام رضا ابن سيد شيخ امام موسي کاظم ابن سيد شيخ جعفر صادق ابن سيد شيخ امام محمد باقر ابن سيد شيخ امام زين العابدين ابن سيد امام حسين شهيد کربلا ابن سيد امام علي رضي الله عنه"ـ[2]

قاضي عبدالحليم اثر افغاني په خپل تحقيقي کتاب "تېر هېر شاعران" کښې د حاجي ابراهيم په حقله نسبتاً تفصيلي ليک کړے دے ـ د حاجي ابراهيم د علمي، روحاني او ادبي حېثيت سره سره ئې د هغۀ په خانداني شاليد هم رڼا غورځولې ده ـ ليکي:

"ابراهيم د سوات د مشهور بزرګ پير "پرنده" صاحب عليه الرحمته په اولاد کښې يو ډېر لوے عالم روحاني بزرګ او د پښتو ژبې د پخواني طرز او اسلوب په ليکونکو کښې د موزونې طبعې شاعر او اديب تېر شوے دے چې د اخون درويزه د مخصوص سبک په پېروکارانو کښې ښکلے ليکونکے دے ـ د پير پرنده صاحب زيارت مبارک د بَر سوات په علاقه

کښې د خزانې عليګرامي تر مېنځه د کبل تحصيل په علاقه کښې د ے ۔
پرنده ورته په دې اعتبار وائي چې د ے د روحاني طاقت په زور د ملک
عرب د شام علاقې نه په هوا رااالوتلے وۀ او دلته سوات ته راغلے وۀ"۔[3]

ملا صفي الله خټک په ۵. صفر ۱۲۷۲هجري د سيد سفر پرنده (پير پرنده) په زيارت د حاضرۍ د احوالو په ضمن کښې په خپل کتاب "نظم الدرر في سلک السير" کښې ليکلي چې:

"بدھ پانچ صفر کوذرہ خیلہ سے روانہ ہو کر قیلولہ کے لیے خزانہ کے گاؤں پہنچے اور وہاں قیلولہ کرکے نماز ظہر ادا کی۔ اور وہاں سے روانہ ہو کر راستے میں سید پرندہ بابا کی زیارت کر چکے۔ پرندہ بابا ایک کامل ولی ہیں اور اس کے نواسے کی جس کا نام حاجی ابراہیم بابا ہے، ایک تصنیف میں لکھا ہے کہ: ولہ کرامات کثیرۃ فاحدھا انہ طار مع ابنہ من الشام الی الھند ومنہ الی وطن یوسفزئ وتوطن فیہ انتھیٰ۔ یعنی ان کے بہت سے کرامات ہیں۔ ان میں سے ایک کرامت یہ ہے کہ اپنے بیٹے کے ساتھ ملک شام سے ہندوستان کو اُڑ کر آئے اور ہندوستان سے یوسفزئی کے وطن میں تشریف لائے، اور اسی میں سکونت اختیار کرکے اس کے ہو کر رہے"۔[4]

د ملا صفي الله خټک په دې پورتني اقتباس کښې چې د حاجي ابراهيم د کتاب کوم اقتباس رانقل کړے شوے دے نو متاسفانه چې د کتاب حواله نۀ لري ۔ اوس دوه امکانات دي، يا خو دا اقتباس د حاجي ابراهيم د بل کومه کتاب دے چې اوس زمونږ په دسترس کښې نۀ دے او يا د دې "معراج العارفين" دے ولې خو د دې د ځينې برخو په ضائع کېدو کښې لۀ مېنځه تلے دے ۔ کۀ وړومبے امکان درست وي نو دا د حاجي ابراهيم د يو بل قيمتي کتاب غمازي هم کوي ۔ قاضي عبدالحليم اثر افغاني "په تېر هېر شاعران" کښې د ملا صفي الله خټک د دې اقتباس او د احمدي صاحبزاده د "هفت پېکر" په بنياد د حاجي ابراهيم د زماني او عصر په حقله دا رائې قائمه کړې ده چې:

"هر کله چې صفي الله خټک په مياشت د صفر المظفر ۱۲۷۲هجري کښې د دۀ ذکر د تېرو شوو عالمانو په حثيت سره کړے دے او د ميا صاحب محمد عمر د ځوکنو ځوي عبېدالله مياګل د خپل کتاب هفت پېکر په ديباچه کښې د دۀ د دې قيصې نوم ياد کړے دے او حضرت مياګل صاحب په ۱۲۳۳هجري کښې وفات دے، نو وئيلے شو چې حاجي ابراهيم بابا د ۱۲۰۰هجري په زمانه کښې تېر شوے دے"۔[5]

دلته چې قاضي عبدالحليم اثر افغاني د حاجي ابراهيم د زماني کوم تعين کړے دے نو دا د تاريخي حقائقو سره سمون نۀ خوري، ځکه چې د حاجي ابراهيم زمانه لۀ دې متعين کړې په "قند" مجله کښې د زمانې نه ډېره مخکښې ده چې تفصيل به ئې وروستو راشي ـ قاضي عبدالحليم اثر افغاني يوه مفصله مقاله د "حافظ الپوری" د عنوان لاندې چاپ ده چې د ځينې مندرجاتو سره ئې اتفاق ممکن نۀ دے ـ ولې خو په دې مقاله کښې ئې د سلطان ابراهيم په نوم د يو شاعر تذکره کړې ده او د هغۀ يو شعر ئې د نمونې په توګه راخيستے دے، کوم چې د پادري هيوز په کليد افغاني کښې د ابراهيم نومې شاعر په غزل کښې موجود دے ـ ليکي:

"حضرت سلطان ابراهيم د پښتو ژبې شيوا بيان اديب او شاعر وۀ ـ د حضرت عبدالرحمان بابا مهمند سړيني استاد وۀ ـ د ابراهيم د غزلونو په رديف او قافيه رحمان بابا ګڼ غزلونه ليکلي دي ـ د تبرک په طور د ابراهيم دا شعر درج کوو:

تعلق هستي مې دواړه پښې شا کړۀ
جريده د عشق په لار کښې روان فرد يم

دا شعر په دې دلالت کوي چې دے "مقام فرديت" او "قطب فرد" درجې ته رسېدلے وۀ ـ عليه الرحمته والغفران ـ د دې حضرت سلطان ابراهيم دوه ځامن وو، عبدالرحمان او شاه زمان"۔[6]

د حاجي ابراهيم په اولاد کښې سيد لطيف يوه لوستے شخصيت تېر شوے دے چې اولاد ئې د ادينزئ په سېرئ نومې کلي کښې اباد دے ـ سيد لطيف د حاجي ابراهيم د قلمي نسخې "معراج العارفين" په پائې کښې خپله شجره هم ليکلې ده چې د حاجي ابراهيم پورې داسې رسېدلې ده:

"سيد لطيف ابن سيد حميد ابن سيد اعظم ابن سيد قطب ابن سيد نعمت ابن سيد محمد زمان ابن سيد شاه زمان ابن سلطان حاجي ابراهيم"۔[7]

دا ممکن ده چې حاجي ابراهيم د عبدالرحمان مومند استاذ پاتې شوے وي، ځکه چې د حاجي ابراهيم په پېښور کښې استوګنه د "معراج العارفين" نه ثابت ده ـ بل دواړه همعصر

ضرور دي ولې خو د حاجي ابراهيم مشري په تاريخي حوالو ثابت ده ـ دغه شان د حاجي ابراهيم نمسي سيد لطيف په خپله شجره کښې د خپل نيکهٔ نوم سلطان حاجي ابراهيم او د هغهٔ د يو څوي نوم ئې سيد شاه زمان ليکلے دے ـ په دې اساس دا اغلبه ده چې د قاضي عبدالحليم اثر افغاني ياد کړے سلطان ابراهيم په حقيقت کښې د "معراج العارفين" حاجي ابراهيم وي ـ قاضي عبدالحليم اثر افغاني په دې مفصله مقاله کښې د سلطان ابراهيم په حقله يو خلط مبحث هم راوړے دے چې هغهٔ ئې د پير محمد څوے او د اخون درويزه نمسے ياد کړے دے ولې خو د اخون درويزه په ځامنو کښې د پير محمد په نوم کوم څوے او په نمسو کښې د سلطان ابراهيم په نوم کوم نمسے ثابت نهٔ دے ـ

د حاجي ابراهيم د زېږون او مړينې په حقله کومه مستنده قرينه او حواله په لاس کښې نهٔ لرو ـ البته د مختلفو قرائينو او شواهدو نه ئې د عصر او زمانې تعين ضرور کېدے شي ـ لکه دا چې د "معراج العارفين" مطابق حاجي ابراهيم د طريقت په معروفه سلسله عاليه نقشبنديه مجدديه بنوريه کښې د سيد آدم بنور د معروف خليفه ميا يار محمد پاپيني مريد او معتقد دے ـ د سيد آدم بنور خاص مريد محمد امين بدخشي د خپل کتاب "نتائج الحرمين" په دريم جلد "مناقب الحضرات" کښې د "شيخ يار محمد جلال آبادي" د عنوان لاندې د ميا يار محمد پاپيني تفصيلي تذکره کړې ده او د دوي د مړينې نېټه ئې ۲۵ رجب ۱۰۸۰ کال ښودلې ده ـ[8] نو دا يقيني ده چې د حاجي ابراهيم ملاقات به د ميا يار محمد پاپيني سره د کال ۱۰۸۰هجري نه وړاندې شوے وي او دا هم يقيني ده چې ډېره موده به د خپل مرشد په صحبت کښې پاتې شوے وي او بيا به په سلسله عاليه نقشبنديه مجدديه بنوريه کښې د بيعت او خلافت په مقام فائز شوے وي، ولې خو دا يقيني نهٔ ده چې دا ملاقات کله شوے دے او څومره موده د هغوي په صحبت کښې پاتې شوے دے ـ ممکن ده چې د حاجي ابراهيم د طريقت او معرفت روحاني نړۍ ته راتګ به په پوخ عمر کښې شوے وي، ځکه چې د شريعت نه طريقت پله تګ عموما د پوره علمي رياضت نه وروستو کيږي ـ اوس کهٔ د حاجي ابراهيم د شريعت نه طريقت پله د تګ عمر پينځه شلوېښت کاله فرض کړے شي او د خپل مرشد ميا يار محمد پاپيني د صحبت دورانيه ئې پينځلس کاله فرض کړے شي نو په دې حساب سره به ئې د طريقت روحاني نړۍ ته راتګ په کال ۱۰۶۵ هجري خواؤشا کښې شوے وي او لهٔ دې څخه چې شلوېښت کلونه

شاته لاړ شو نو ۱۰۲۰ هجري کال ئې د زېږون کال اټکل کېدے شي ـ دا قرينِ قياس هم ده ځکه چې د کال ۱۰۷۵ هجري په دوران کښې په "معراج العارفين" کښې چې د تصوف سره په تړلي کومو علمي موضوعاتو باندې باندې ليکونه شوي دي نو دا د پوره علمي شاليد او روحاني رياضت نه بغېر ممکن نۀ دي ـ د حاجي ابراهيم د "معراج العارفين" د آغاز او اختتام په حقله کره معلومات نۀ ترلاسه کيږي البته د دوه رسالو په ترقيمه کښې ئې د ۱۰۷۵ هجري او ۱۰۷۸ هجري کلونه ليکلے شوي دي ـ نو دا يقيني ده چې د دې کتابت هم په دې کلونو کښې شوے دے، ولې خو د پښتو په منظومه برخه کښې ئې د خپل مرشد ميا يار محمد پاپيني د مړينې تذکره دا ښائي چې د دې کتابت تر کال ۱۰۸۰ هجري پورې په يقيني توګه راغزېدلے دے ـ دغه شان د حاجي ابراهيم د مړينې د کال متعين کولو په حوالې سره هم څۀ قرائن او شواهد نشته ولې خو د "معراج العارفين" د يوې رسالې د ترقيمې مطابق ئې ژوند د کال ۱۰۷۸هجري او د پښتو منظومه رساله کښې د ميا يار محمد پاپيني د مړينې د تذکرې په بنياد ئې ژوند د کال ۱۰۸۰ هجري پورې يقيني دے او لۀ دې نه وروستو ئې د ژوند په حقله څۀ داسې قرائن او شواهد په لاس کښې نۀ لرو ـ البته کۀ لۀ دې څخه وروستو ئې نور ژوند شل کاله فرض کړے شي نو د کال ۱۱۰۰ هجري ئې ژوند تر اتيا (۸۰) کلونو پورې غزيږي چې قرين قياس دے ـ

حاجي ابراهيم يو باعمله صوفي هم وۀ او په دې حقله ګڼ شمېر داخلي او خارجي شهادتونه هم موجود دي ـ د "معراج العارفين" د مجموعي مطالعې او په دې کښې د ورکړے شوي سلسله طريقت نه دا خبره ډاګيزه کيږي چې حاجي ابراهيم د طريقت په معروفو سلاسل اربعه کښې د سلسله عاليه نقشبنديه مجديه بنوريه سره منسلک وۀ او د سيد آدم بنور د معروف خليفه ميا يار محمد پاپيني مريد او معتقد وۀ ـ په "معراج العارفين" کښې د پښتو ابياتو په برخه کښې حاجي ابراهيم د دې اظهار داسې کړے دے:

ميا کاملِ مکمل وۀ په پاپين کښې
هميشه پر فقيرانو استظهار نن
چې يې نوم ميا يار محمد معنې يې دا
وي
چې حاضر وَ محمد ته پر سرکار نن

چې خدمت لۀ پېغمبره يې روزي شي
چې دا هسې ولي کوم دے دنيا دار نن[9]

حاجي ابراهيم د "معراج العارفين" د پښتو ابياتو په برخه کښې د ميا يار محمد پاپيني سره د خپل عقيدت اظهار ډېر په جذباتي انداز کښې کړے دے او د پير کامل نسبت ئې ورته کړے دے ۔ وړاندې ئې د مړينې او قبر د تذکرې په ضمن کښې د روحاني فيوضاتو ذکر داسې کوي:

هم دا هسې مرشد چرې پېدا کيږي
يو نظر د دۀ کيميا وۀ بل ستار نن
په مدينه کښې يې معراج شه په رجب
کښې
غه ما ته يې نعرې کړې په اظهار نن
چې دا محراب دې د مرشد سيد آدم دے
هم دا هسې ولي کوم دے په روزګار نن
دغه حيات موات وَ ميا ته برابر وو
لږ حيات وۀ هسې اوس ئې دے مزار نن
په اخلاص کۀ څوک د ميا تر قبره ورشي
هر مقصود به يې پوره شي هره چار نن[10]

د "معراج العارفين" د پښتو ادبياتو په برخه کښې ئې ځاے په ځاے د خپل مرشد ميا يار محمد پاپيني په مړينه د خپل غم څرګندونه هم کړې ده:

چې دا هسې کاملان تر جهان تېر شو
څوک به څۀ رنګ اعتبار کا په ديار نن
زړۀ مې پر تاپسې پرېشان هسې نوليږي
لکه وازده په سکروټه تار پر تار نن
په جمال د ميا زۀ هسې يم تتلے

لکه ښئیلے چې په کښت وکاندې ناتار
نن[11]

د حاجي ابراهيم لۀ دې پورتني شعرونو نه جوتيږي چې د حرمينو شريفينو په سفر کښې د حاجي ابراهيم مرشد ميا يار محمد پاپيني د خپل مرشد سيّد آدم بنور سره همرکاب وۀ ـ ځکه چې د سيد آدم بنور معروف خليفه محمد امين بدخشي د خپل کتاب "نتائج الحرمين" په دريم جلد "مناقب الحضرات" کښې ليکلي دي چې سيد آدم بنور د خپلو مريدانو سره د رجب په مياشت کال ۱۰۵۱هجري کښې مديني منورې ته رسېدلے وۀ او د حضرت محمد صلي الله عليه و اله وسلم په روضه مبارکه ئې حاضري کړې وه ـ[12] حاجي ابراهيم خپله د طريقت سلسله عاليه نقشبنديه مجديه بنوريه په "معراج العارفين" کښې هم ثبت کړې ده چې په اتۀ ويشت واسطو سره حضرت محمد صلي الله عليه و اله وسلم ته داسې رسېدلې ده:

"حاجي ابراهيم، از يار محمد پاپيني، از سيد آدم بنوري، از شېخ احمد سرهندي، از خواجه باقی بالله، از خواجه محمد امکنګي، از خواجه دروېش محمد اودهي، از خواجه زاهد محمد وخشي، از خواجه عبيد الله احرار، از خواجه يعقوب چرخي، از خواجه علاوالدين عطار، از خواجه بهاوالدين نقشبند ، از خواجه سيد امير کلال، از خواجه محمد بابا سماسي، از خواجه بو علي عزيزان راميتني، از خواجه محمود انجير فضنوي، از خواجه عارف ريوګري، از خواجه عبدالخالق غجدواني، از خواجه يوسف همداني، از شېخ بو علي فارمدي طوسي، از شېخ ابوالحسن خرقاني، از شېخ بايزيد بسطامي، از امام جعفر صادق، از قاسم بن محمد ، از حضرت سلمان فارسي، از حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه، از حضرت محمد صلی الله عليه و اله وسلم"ـ[13]

ډاکټر محمد علي ديناخېل په خپله پي ـ ايچ ـ ډي مقاله "د سوات پښتو ادب او ثقافت" کښې په سوات کښې د تصوف د ابتداء په ضمن کښې د حاجي ابراهيم دوه شعرونه هم رانقل کړي دي چې د تصوف رازونو او اسراونو ته پکښې واضح اشارات موجود دي ـ دغه

شان د پروفېسر محمد افضل رضا د "پټ ستوري" په حواله ئې د سوات د پير پرنده صاحب په اولاد او د اخون درویزه د سبک په پېروکارانو کښې هم یاد کړے دے ۔[14] حاجي ابراهيم د لوے عالم او باعمله صوفي سره یو ښهٔ شاعر او ادیب هم وۀ ۔ میا حسیب ګل کاکاخېل غالباً وړومبے لیکوال دے چې په خپل قلمي بیاض کښې ئې د حاجي ابراهیم دوه کلامونه رانقل کړي دي ۔[15] پادري هیوز غالباً دویم لیکوال دے چې په کلید افغاني کښې ئې د "چمن بېنظير" په برخه کښې د حاجي ابراهیم یو غزل رانقل کړے دے ۔[16] لۀ دې نه علاوه د حاجي ابراهيم د منظوم کلامونو نمونې مخې ته نۀ دي راغلي ۔ البته په "معراج العارفین" کښې د پښتو ابیاتو په برخه کښې یو طویل غزل نما نظم ضرور شته چې په خپل ځاے به ئې تذکره راشي ۔ په دې بنیاد عبدالحی حبیبي په "پښتانۀ شعراء" کښې د حاجي ابراهیم متعلق په دې لیکلو مجبوره شوے دے چې:

> "ابراهیم هم د هغه شاعرانو نه یو دے کوم چې په ګمنامۍ کښې مړۀ دي ۔ حالات او دیوان ئې نۀ دے پاتې ۔ د دۀ د کلید افغاني په ذریعه یو غزل تر دې وخته ژوندے پاتې دے او دے مونږ د هغې په وجه د یو ښۀ شاعر په حېثیت پېژنو"۔[17]

قاضي عبدالحلیم اثر افغاني په "تېر هېر شاعران" کښې د حاجي ابراهیم د دوه کتابونو تذکره کړې ده چې یو کتاب د "زقوم بادشاه قیصه" ده او بل کتاب د "سیف الملوک قیصه" ده ۔ قاضي عبدالحلیم اثر افغاني د زقوم بادشاه د قیصې متعلق لیکي:

> "د دې حاجي ابراهیم یو پښتو کتاب چې د "زقوم بادشاه قیصه" ده، ما ته په لاس راغلې ده ۔ کاغذ یې دبیز حنائي او د سوات جوړ دے ۔ خط ئې کچه، املاء غلطه او بې ربطه دے لیکن د هر څۀ نه زیات عجیبه د دې کتاب ما ته په لاس راتلل دي"۔[18]

سر محقق زلمي هېوادمل په خپل کتاب "د پښتو د ادبي تاریخ خطي منابع" کښې د حکایتي آثارو په ضمن کښې هم دا "قصه زقوم" د ابراهیم تصنیف یاد کړے دے ۔ د دې خطي نسخې منبع ئې کتابخانه لیننګراد د ختیځ پوهنې انستیټیوټ ښودلې ده چې اسلوب ئې د مسجع نثر دے ۔[19] شریف الله دوست هم د افغانستان د علومو اکېډیمي د خطي نسخو په ضمن کښې د دې منظوم اثر تذکره کړې ده او د دې ناظم ئې ابراهیم یاد

کړے دے ـ[20] دغه شان په پښتو اکېډيمي پېښور پوهنتون کښې هم د حاجي ابراهيم منظوم کړي د زقوم بادشاه قيصه په نمبر ۳۳۹/۱ باندې خوندي ده ـ[21] ولي خو مطيع الله روهيال د زقوم د قيصې ليکوال د ځينې شعرونو په بنياد عزيز الله ياد کړے دے ـ[22] شريف الله دوست د زقوم قيصې ناظم ابراهيم ياد کړے دے چې په نمبر ۸۱۱ د افغانستان د علومو اکېډيمي په قلمي نسخو کښې خوندي ده او خطاط ئې عزيز الله دے:

"دا لۀ اصله د يوې فارسي رسالې ځخه پښتو منظومه ژباړه ده، موضوع ئې د زقوم په نوم د يوه کس او د هغۀ د درې زامنو د ژوندانه حکايت دے چې په مثنوي فورم کښې په نظم شوی دے ـ د شعر سمون ئې عزيزالله کړے دے ـ قيصه ابراهيم ليکلې ده"ـ[23]

د افغانستان د علومو اکېډيمي د خطي نسخو په فهرست کښې په ۱۳۸۷۵ نمبر د زقوم د قيصې په نوم چې کومه خطي نسخه موجود ده نو د دې ليکونکے ابراهيم دے ـ د دې خطي نسخې د مندرجاتو ځخه هم داسې برېښي چې دا بنيادي طور د فارسۍ يوه رساله وه ـ لۀ فارسۍ ځخه ابراهيم پښتو کړې ده او بيا ئې سمونه عزيزالله کړې ده ـ لکه دې شعرونو نه چې ځرګنديږي:

د ابراهيم شعر چې کا ساز عزيز الله
ځکه فضل په دۀ شه د پاک الله
دا قيصه د ابراهيم لۀ خلې بيان
عزيز الله ئې ځکه ليکي په هغه شان
د ابراهيم وئيل به واړه فراموش کړي
کۀ وئيل د عزيز الله چرې په ګوش کړي
دا کتاب د فارسي خوانو رساله وه
ابراهيم پښتو کړه دليل هومره خرڅېدۀ[24]

د حاجي ابراهيم دويم کتاب د "سيف الملوک" قيصه ده ـ د دې قيصې متعلق قاضي عبدالحليم اثر افغاني په خپل کتاب "تېر هېر شاعران" کښې ليکي:

"ابراهیم یو بل کتاب د سیف الملوک قیصه هم لیکلې ده چې قلمي نسخه ئې د پېښور په عجائب خانه کښې ده ـ شروع ئې داسې ده: ابراهیم مط په شریعت کړه چې جنت لره ورځي لایمان داره ده ـ په وړومبنۍ زمانه کښې یو بادشاه وۀ راپېدا شه ـ د صورت نوم عاصم وۀ ـ شهر مصر کلي مال په درد منور زړونو زباد شه ـ رعیتونه ئې ساتل، ظلم ئې نۀ کړۀ، په هر لورې ادب ادیب وو خو بې تپوس په هر لورې په هبواد شه چې بې ځوي عمر یاد شه ـ بې فرزنده بادشاهي پکار نۀ وه ـ زړۀ ئې بد شه ـ یوه ورځ ئې خرقه واغوسته، نامراد شه ـ امرکانان وزیران واړه ور روان شه چې بادشاه ځکه ناشاد شه"ـ[25]

قاضي عبدالحلیم اثر افغاني چې د پېښور په عجائب خانه کښې د حاجي ابراهیم د سیف الملوک د قیصې تذکره کړې ده نو دا وضاحت ئې نۀ دے کړے چې دا منظوم اثر دے او کۀ منثور اثر دے ـ البته د دې قیصې د شروع کوم اقتباس ئې چې رانقل کړے دے نو هغۀ منثور دے ـ د پېښور په عجائب خانه کښې چې د "قیصه سیف الملوک" په نوم کوم منظومه قیصه نن داري ته پرته ده نو هغې سره دا تفصیل ورکړے شوے دے:

"قصہ سیف الملوک" حاجی ابراہیم بابا کی پشتو نثر کی مشہور رومانوی داستان، جو ۱۱۰۰ ہجری میں لکھی گئی۔ ۲۷سم، صفحات: ۶۶"۔ ۱۵/[26]. کاتب نامعلوم، جسامت ۸

چونکې د سیف الملوک دا قیصه نن داري ته پرته ده او د دې مطالعه کول ممکن نۀ دي نو په دې بنیاد د قاضي عبدالحلیم اثر افغاني د پورتني اقتباس تصدیق او تردید کول ممکن نۀ دي  البته د دې قیصې کومه برخه چې د لوستلو قابل ده نو د هغې نه دا څرګندېږي چې دا منظومه قیصه او د مثنوي په هېئت کښې د اتۀ سېلابیز په وړوکي بحر کښې لیکلې شوې ده  د نمونې په توګه ئې "فصل په باب د جهان د ناسازۍ" دا شعرونه ملاحظه کړئ:

د جهان ناسازي کاندې
درست جهان کا لاندې باندې
په آزار ځیني نېکان دي
راضي من ځیني بدان دي

چې بد ذاته چې شریر وي
هم هغهٔ د دهٔ وزیر وي
یا راغلي په تړل دي
یا راغلي په شړل دي
چې بد ذاته بد نسب وي
هم هغهٔ ئې مقرّب وي
کهٔ قاضیان دي کهٔ مفتیان دي
د دهٔ واړه بد ذاتان دي[27]

د حاجي ابراهیم د منظوم کړي دې "قیصه سیف الملوک" یوه قلمي نسخه په پښتو اکېډیمي پېښور پوهنتون کښې په نمبر ۱۳۳۸ هم خوندې ده [28]

**معراج العارفین (قلمي نسخه):**

"معراج العارفین" د حاجي ابراهیم یوه ضخیمه قلمي نسخه ده چې په کڼ شمېر علمي او ادبي رسائلو، دعواتو، صلواتو، ابیاتو، رباعیاتو او اورادو باندې مشتمل ده ـ د دې قلمي نسخې زیات تر رسائل په عربۍ او فارسۍ باندې اړتیا لري ولې خو دې سره سره پکښې د پښتو د نظم او نثر نمونې هم شتون لري ـ د دې قلمي نسخې یو نقل یعني فوټو کاپي د حاجي ابراهیم په اولاد کښې د مولوي رحیم سید سره محفوظ ده ـ د مولوي رحیم سید (زېږون: ۱۹۷۸ء) مطابق:

"د حاجي ابراهیم لهٔ دې قلمي نسخې نه علاوه ځینې نور آثار هم وو ولې خو لهٔ بده مرغه ضائع شوي دي ـ د حاجي ابراهیم روضه مبارکه په سبرۍ چکدره کښې ده چې په حاجي بابا شهرت لري ـ د پلار ملا سید ولي داد روضه مبارکه ئې په زره خېله شموزو کښې ده چې په خونه بابا شهرت لري ـ د دوي د جد امجد حضرت سفر پرنده بابا روضه مبارکه د شموزو او سوات تر مېنځه د سوئي ګلي په مقام ده چې په پیر پرنده شهرت لري" ـ[29]

د حاجي ابراهیم د "معراج العارفین" دا قلمي نسخه په درې برخو یعني د عربۍ برخه، د فارسۍ برخه او د پښتو برخه کښې ویشلې کېدے شي ـ لهٔ دې نه علاوه دا قلمي نسخه

یوه تفصیلي علمي مقدمه هم لري چې په فارسۍ کښې لیکلې شوې ده ـ په مقدمه کښې د دې قلمي نسخې د لیکلو علت او سبب په تفصیل سره بیان شوے دے ـ د ترکِ دنیا سره پکښې د انسان په بنیادي مقصد رڼا غورځولې شوې ده او د انسان اصل کار ئې د فرمانِ "وَ مَا خَلَقْتُ الْجِنّ وَ الاِنْسَ الا لِیعْبُدُوْنْ"۔ بیا خداوندي مطابق داسې بیان کړے دے چې: ئې د دې په تشریح او توضیح کښې مختلف قراني آیات، احادیثِ رسول، اقوالِ بزرگان، د عربۍ او فارسۍ ابیات او رباعیات رانقل کړي دي او د خپلې دعوې پخلے ئې پرې کړے دے ـ لهٔ دې نه د حاجي ابراهیم د علمي رتبې او ادبي حېثیت اندازه هم په اسانه کېدے شي ـ د "معراج العارفین" د تصنیف سبب په دې مقدمه کښې داسې بیان شوے دے:

"بنده گنهگار امیدوار بعفو مالک الغفار اقل الخلائق عارفی عرف ابو جیو خضر میگوید سخی جند برای دلریشان و نفس بے سامان فراهم کرده شده تا دل از دنیا دون متنفر شود و در فقر ارام کیرد و از روباه بازی ایام ازاد کرده و عمر عزیز در راحت انصرام رسد و این رساله را "معراج العارفین" نام نهاده شده تا هر طالب صادق که بخواند و فایده کیرد این بنده را بدعا خیر یاد دارد تا ثواب یا بد انّ اللهَ لاَ یضیع اَجرالمُحسنین"۔[30]

د عربۍ او فارسۍ د زیات تر رسائلو په پائې کښې حاجي ابراهیم د کاتب الحروف په حېث خپله نامه لیکلې ده ـ کله کله ئې د خپلې نامې سره د خپل پلار نامه ملا ولي داد هم لیکلې ده ـ دغه شان ئې کله کله ورسره ورځ، میاشت، وخت، ځاے او کال هم لیکلے دے ـ لکه د مقدمې په پائې کښې د کاتب الحروف سره د ورځ، میاشت، وخت او ځاے تفصیلات داسې ورکړے شوي دي چې: تمت تمام شد در روز یکشنبه در ماه صفر بوقت چاشت در پشاور ـ د فارسۍ د یوې رسالې "رساله ده قاعده" په پائې کښې د کاتب الحروف سره د ورځ، وخت، ځاے او کال تفصلات داسې ورکړے شوي دي چې: تمت تمام شد در روز جمعه بوقت نماز پشین در شهر شام، ۱۰۷۵ هجري ـ دغه شان د "صلوات المعزون المعظم" نومې رسالې د ترقیمې مطابق ئې د کتابت کال ۱۰۷۸ هجري او ځاے بغداد ښودلے دے ـ د راقم الحروف په دسترس کښې چې د "معراج العارفین" کومه واحده قلمي نسخه ده نو دا د نسختـه الام یا نسخه اصلیه نقل یعني فوټو کاپي ده او د پوره کوشش باوجود نسخه اصلیه ته د راقم الحروف رسائي ممکن نهٔ شوه ـ په دې اساس د

"معراج العارفین" د دې قلمي نسخې د سیاهۍ، کاغذ او سائز په حقله حتمي رائې قائمول ممکن نۀ ده ـ البته خط او کتابت ئې واضحه او د اوسط درجې دے ـ د عربۍ زیات تر رسائل په خطِ نسخ او خطِ نستعلیق کښې لیکلے شوي دي، البته یوه رساله نیمه په خطِ کوفي کښې هم لیکلې شوې ده ـ دغه شان د فارسۍ رسائل او د پښتو ابیات په خطِ نستعلیق کښې لیکلے شوي دي ـ لۀ دې نه دا هم څرګندیږي چې حاجي ابراهیم د یو ښۀ کاتب سره د خطِ نسخ، خطِ نستعلیق او خطِ کوفي ماهر هم وۀ ـ د دې قلمي نسخې هر مخ دیارلس کرښې لري ولې خو کله کله دا تعداد شپږویشت کرښو ته هم غزېدلے دے ـ د پښتو ابیاتو په برخه کښې په هر مخ د بېتونو شمېر دولس دے ولې خو کاله کله دا شمېر تر څوارلس شعرونو پورې هم غزېدلے دے ـ په دې قلمي نسخه رکابونه لګېدلي دي ولې خو وروستو پرې په جدا خط نمبرې هم لګېدلي دي چې شمېره ئې پینځه سوه شپږ ته رسېدلې ده ـ لۀ دې قلمي نسخې د مندرجاتو نه داسې څرګندیږي چې د دې قلمي نسخې ځینې برخې لۀ مېنځه تلي دي ـ دغه شان وروستو د دې جلد بندي هم داسې شوې ده چې اصل ترتیب ئې په خپل ځاے نۀ دے پاتې شوے ـ د ځینې برخو د ضائع کېدو او په ترتیب کښې د دې تقدیم او تاخیر په وجه د دې قلمي نسخې د مندرجاتو په تفهیم کښې بلها ستونزې پېدا شوي دي ـ د "معراج العارفین" د مطالعې نه دا نۀ څرګندیږي چې د دې د لیکلو آغاز کله شوے دے او کله پائې ته رسېدلے دے ـ البته دومره معلومات ترلاسه کیږي چې د دې آغاز د کال ۱۰۷۵ هجري نه وړاندې په پېښور کښې شوے دے، ځکه چې د فارسۍ یوه رساله "رساله ده قاعده" په هم دې کال د شام په وطن کښې پائې ته رسېدلې ده ـ لۀ دې نه وړاندې د دې قلمي نسخې د مقدمې په پائې کښې ورځ یکشنبه، میاشت صفر او ځاے پېښور لیکلے شوي دي ـ د دوه رسالو یعني "رساله ده قاعده" په پائې کښې د ۱۰۷۵ هجري کال او د رساله "صلوات المعزون المعظم" په پائې کښې ۱۰۷۸ هجري کال لیکلے شوي دي ـ د "صلوات المعزون المعظم" نومې رسالې په پائې کښې چې په عربۍ کښې کومه ترقیمه لیکلې شوې ده نو هغه په دې ډول ده:

"فجمعت هذة الصلواة المبارکه الشریفیة المسماة لصلواة المعزون
المعظم فی بغداد و مضی عن هجرة النبی صلی الله علیه وسلم الف و

ثمانیه و سبعون سنه، ان کنت تطلب التاریخ، اسمع فان طلب التاریخ من حروف "حغع"، الحاء الثمانیه، الغین الف، العین سبعون"۔[31]

لۀ دي نه دا هم څرګندېږي چې د "معراج العارفین" کتابت په مختلفو اوطانو کښې شوے دے چې پېښور، شام او بغداد پکښې معلوم دي ۔ د دې د لیکوال حاجي ابراهیم د حرمینو شریفینو سفرونه هم ښکاره دي ۔ دا مختلف علمي او روحاني اسفار په دې خبره دلالت کوي چې حاجي ابراهیم یو جهان دیده شخصیت هم وۀ ۔

**● د عربۍ برخه:**

په دې برخه کښې د "معراج العارفین" د هغه لیکونو یوه اجمالي جائزه وړاندې کولے شي چې په عربۍ ژبه لیکلے شوي دي ۔ په دې قلمي نسخه کښې د عربۍ ګڼ شمېر لیکونه شتون لري ولې خو د غلطې جلدي بندي او د څۀ برخو د ضائع کېدو په وجه ئې په پېژندګلو کښې بلها ستونزې موجود دي ۔ هغه رسائل چې محفوظ دي نو د هغو یوه پېژندګلو وړاندې کولے شي ۔ د عربۍ په یوه رساله کښې د "نفس" په حقله لیکي چې:

"النفس ستۃ: نفس لوامۃ هی عبارۃ عن المکر و القهر و العجب، نفس امارۃ هی عبارۃ عن البخل و الجهل و الکبر و الشهوۃ و الحسد و الغضب، نفس ملهمۃ هی عبارۃ عن السخاوۃ و القناعۃ و العلم و التواریخ و التوبه و التحمل، نفس مطمنۃ هی عبارۃ عن التوکل و التذلل و العبادۃ و الشکر و الرضاۃ، نفس راضیۃ هی عبارۃ عن الکرامۃ و الاخلاص و الورع و الریاضۃ و الذکر و الوفا، نفس مرضیۃ هی عبارۃ عن التقرب و التوسل"۔[32]

د عربۍ یوه بله رساله "دعاء صلوات شریف" د عنوان لاندې لیکلے شوې ده چې په اووۀ ویشت بابونو مشتمل ده ۔ د "الباب الاول في الالف" نه دا رساله شروع شوې ده او په "الباب التاسع و العشرون في الیاء" باندې پائې ته رسېدلې ده ۔ د دې رسالې په شروع کښې درود ابراهیمي او سوره فاتحه هم راوړے شوي دي او بیا په هر باب کښې د صلوات او سلام دا سلسله وړاندې جاري ساتلې شوې ده ۔ دغه شان په هر باب کښې چې څومره جملې راوړے شوي دي نو هغه د متعلقه باب د حرف په مناسبت سره په داسې هم قافیه لفظونو پائې ته رسېدلي دي چې حرفِ روي ئې هم دغه د متعلقه باب حرف وي ۔ یوه بله رساله د "فضیلتِ

مسبعات عشره" د عنوان لاندې موجود ده چې د "مسبعات عشره" په فضيلت ليکلې شوې ده ـ په دې رساله کښې ئې اول مسبعات عشره رانقل کړې دي او بيا د دې طريقه ښودلې شوې ده ـ لۀ دې نه وروستو د دې اورادو په فضيلت په تفصيل سره په عربۍ کښې ليک شوے دے چې په عربۍ ژبه د حاجي ابراهيم د عبور سره سره د هغۀ علمي او روحاني مقام هم راښائي ـ "وصيته رسول الله لفاطمته الزهره" د عربۍ يو بله رساله ده چې د حضرت محمد صلي الله عليه و اله وسلم د دې قول "فاطمة بضعة مني، فمن اغضبها اغضبني" په رڼا کښې د حضرت فاطمه الزهره رضي الله عنها په شان کښې تفصيلي بحث شوے دے او د حضرت محمد صلي الله عليه و اله وسلم نه منقول د حضرت فاطمه الزهره رضي الله عنها په حقله مختلف اقوال رانقل کړے شوي دي ـ د عربۍ يوه بله رساله "في فضل رمضان" ده چې پکښې د رمضان المبارک فضائل په تفصيل سره بيان کړے شوي دي ـ لۀ دې نه علاوه په دې رساله کښې دا هم ليکلے شوي دي چې په دې مياشت کښې تورات، زبور او انجيل هم نازل شوي دي او په دې کښې ليله القدر هم دے ـ لکه يو ځاے ئې ليکلي دي:

"فی فضل رمضان كما قال الله تعالی فی كتابه العزيز شهر رمضان الذی انزل فيه القران اعلموا يا اخوانی ان الله سبحانه و تعالی فضل شهر رمضان علی سائز الشهور جميعا و من بعض مفضله انزل الله فيه القران العظيم الذی لو اجتمعت الانس و الجن علی ان ياتوا بسورة من مثله لعجزوا"ـ[33]

د عربۍ يوه رساله د "الروضه المطهره المباركه الشريفه" د عنوان لاندې ليکلې شوې ده چې د روضۀ رسول صلي الله عليه و اله وسلم په حقله مختلف تاريخي روايات ئې د تاريخ فېروزشاهي په رڼا کښې رانقل کړي دي ـ د حجرۀ حضرت عائشه رضي الله عنها د اهميت په حقله ئې مختلف اقوال هم رانقل کړي دي او بيا ئې د ګنبد خضرا باقاعده يوه خاکه جوړه کړې ده ـ دغه شان ئې پکښې د حضرت محمد صلي الله عليه و اله وسلم، حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه او حضرت عمر رضي الله عنه قبرونه هم هغه شان ښودلي دي څنګه چې په تاريخي حواله سره روايت دي ـ دغه شان د فارسۍ ژبې د شاعر جان محمد قدسي او عبدالرحمان جامي نعتيه ابيات او رباعيات هم ورسره ځاے په ځاے په حاشيو

لیکلے شوي دي ـ د عربۍ په یوه بې نومه رساله کښې ئې د حضرت محمد صلي الله علیه و اله وسلم په فضائلو او شمائلو کښې شمېر احادیث راوړي دي ـ د اولادِ رسول او د سیادت په مسئله ئې مدلل بحث کړے دے او د علاماتِ سیادت په حقله ئې مختلف احادیث رانقل کړي دي ـ لکه دا حدیث رسول چې:

"قال النبی صلی الله علیه وسلم یعرف اولادی بستة اشیاء اولها بالعلم و الثانی بالحلم و الثالث بالشجاعة و الرابع بالسخاوة و الخامس بالتقوی و السادس بالفقر صدق رسول الله صلی الله علیه وسلم" ـ[34]

بیا ئې په دې حواله د امام بخاري تفصیلي رائې رانقل کړې ده ـ د قران مجید او احادیثِ رسول نه ئې استدلال کړے دے او د اولادِ رسول او سیادت په حقله ئې خپل معروضات پائې ته رسولي دي ـ لۀ دې نه علاوه هم ځینې لیکونه په عربۍ کښې شتون لري ولې خو د غلطې جلد بندۍ په وجه په خپلو کښې دومره ګډ وډ کړے شوي دي چې په تفهیم او تعین کښې بلها ستونزې دي ـ

**● د فارسۍ برخه:**

په دې برخه کښې د "معراج العارفین" د هغه لیکونو یوه اجمالي جائزه وړاندې کولے شي چې په فارسۍ ژبه لیکلے شوي دي ـ دلته هم هغه ستونزه موجود ده چې د غلطې جلدي بندۍ او د څۀ برخو د ضائع کېدو په وجه ورسره قاري مخ کیږي ـ هغه رسائل چې محفوظ دي نو د هغو یوه پېژندګلو وړاندې کولے شي ـ د فارسۍ یوه تفصیلي رساله په "قصیده بانت سعاد" لیکلې شوې ده ـ "قصیده بانت سعاد" د کعب بن زهېر رضي الله عنه په بحرالبسیط کښې لیکلے شوې هغه لامیه قصیده ده چې په بارګاهِ رسالت کښې ورته شرفِ قبولیت ترلاسه شوے دے ـ حاجي ابراهیم په وړومبي سر کښې د دې قصیدې په لیکوال کعب بن زهیر بن ابي سلمي او او د دې قصیدې په تاریخي پس منظر په عربۍ کښې مختصر بحث کړے دے او بیا ئې د دې قصیدې په اهمیت او ادبي حېثیت رڼا غورځولې ده ـ دغه شان په فارسۍ کښې ئې د دې قصیدې د هر بیت جامع توضیحات او تشریحات هم کړي دي ـ د فارسۍ یوه بله رساله "کتاب اللمعات" ده چې د امام فخرالدین عراقي د معروف کتاب "اللمعات" په وړومبۍ برخه په فارسۍ کښې جامع لیک شوے دے ـ د فناء في الشیخ، فناء في الرسول او فناء في الله غوندې تصوفي او علمي موضوعاتو باندې ئې

د قراني آيات، احاديث رسول، اقوال حضرت علي او اقوال مشاهير اسلام په رڼا کښې بحث کړے دے ـ دغه شان ئې په دې رساله کښې د فارسۍ ځينې ابيات هم د خپلې مدعا د مدلل کولو د پاره راوړي دي ـ د فارسۍ يوه رساله "نادِ علي" په نوم ده چې د حضرت علي رضي الله عنه په توصيف کښې د وارد شوې دعا په حقله ده ـ په دې رساله کښې په تفصيل سره د "ناد علي" په سبب نزول، د دې په اسنادو او واقعاتو ډير په علمي انداز کښې تبصره شوې ده ـ لکه يو ځائے ليکي:

"اسناد ناد على معه خاصيۃ الحمد لله الذى افاض الارواح الوجود من العلوم صلوة و سلام على سيد الموید المحترم و اله و عترته مصابيح الظلم اين رساله است مشتمل بر بعض خواص و اسرار اين کلمات تامات که مطاع مکين جبرئيل آمين عليه السلام صدر شد ـ"ناد عليا مظهر العجائب تجده عونا لک فى النوائب کل هم و غم سينجلى بعظمتک يا الله و بنبوتک يا محمد و بولايتک يا على يا على يا على"ـ[35]

د فارسۍ په يوه بله رساله "تلاميذ الرحمان" کښې ئې د شعر او شاعر په حقله د قران مجيد ، احاديث رسول او د خلفاء راشدينو د منظوم نظرونو په رڼا کښې مدلل بحث کړے دے ـ د شاعرانو په حقله د دې قراني آيت "والشعراء يتبعهم الغاوون" معقول توضيح او تشريح ئې کړې ده، د احاديث رسول سره ئې د دې تطبيق کړے دے او دلته ئې د "ارشاد المتعلمين" نه استدلال هم کړے دے ـ د فارسۍ يوه بله رساله "قصيده بُرده" ده چې وړومبے پکښې د امام بوصيري د دې قصيدې د تصنيف سبب په عربۍ کښې په تفصيل سره بيان کړے شوے دے او هغه ټوله واقعه بيان کړې شوې ده چې د دې قصيدې د تاليف سبب ګرځېدلې ده ـ بيا په فارسۍ کښې د دې قصيدې فکري او فني جائزه اخيستې شوې ده او د دې په اسنادو تفصيلي بحث شوے دے ـ لکه ليکي:

"در تسهيل آوردن قصيده برده که از جمله تصانيف امام همام على الدوام محمد بوصيرى عليه الرحمۃ و المغفرۃ از ابتداء تا انتها بتمام و کمال در مدح آنحضرت سرور کائنات فخر موجودات خلاصه ممکنات و زبده معلومات يعنى احمد مجتبىٰ و محمد مصطفىٰ صلى الله عليه وسلم آفتاده و جون کلمات عشق دلکش و دلاويز ندا از ان در اول بيان ذکر

کیفیت ظهور و کتمان عشق و محبت آن سرور کرده اما جون آنحضرت اکثر اوقات در کتمان عشق و محبت خود با حضرت باری میگوشیده زیر آنکه طریقه صادق در عشق مامور بدان است بلکه مشهور و متعارف همان است چه بدین صفت اگرچه مجازی باشد بحقیقتی رسد کقوله علیه الصلوة و السلام من عشق فکتم و عف ثم مات مات شهیدا"۔[36]

د فارسۍ یوه بله رساله د عبدالقادر جېلاني په "قصیده خمریه" هم ده ۔ د تصوف په سلسله عالیه قادریه کښې دې قصیدې ته خاص اهمیت حاصل دے او د دې سلسلې متصوفین د دې وِرد په اهتمام سره کوي ۔ په خواصو کښې دا په قصیده الخمریه او په عوامو کښې دا په قصیده الغوثیه باندې معروف ده ۔ په دې رساله کښې د دې قصیده خمریه یا غوثیه متعلق یو ځاے لیک دې:

"اسناد قصیده معظمه مکرمه که مسمی بخمری است از زبان دُر بار گوهر نثار قطب الزمان غوث الاعظم سلطان اولیاء و برهان اصفیاء حضرت شاه محی الدین عبدالقادر جیلانی قدس روحه که در حال جذبه بر آمد و خواص بسیار و فوائد بی شمار دارد و جندین در تحریر آمد"۔[37]

یوه بله مختصر بې نومه رساله د ازواج النبي، اولاد النبي او عشره مبشره په حقله په فارسۍ کښې ده چې اول پکښې د ازواج النبي تذکره شوې ده، بیا د اولاد البني تذکره شوې ده او بیا د عشره مبشره تذکره شوې ده ۔ دغه شان د هر نوم سره پکښې مختصر مگر ضروري معلومات هم ورکړے شوي دي ۔ د فارسۍ یوه بله رساله په "قصیده المنفرجه" باندې مشتمل ده چې د مشهور صوفي شاعر ابوالفضل محمد بن یوسف التوزري المعروف ابن النحوي مشهوره قصیده ده ۔ په دې رساله کښې دا قصیده مکمل راوړې شوې ده او بیا ورسره د مشکل لغاتو معنې په فارسۍ کښې لیکلي دي ۔ د فارسۍ په یوه رساله کښې ئې د سید آدم بنور "ملهمات" راوړي دي ولې خو د دې رسالې نورې پاڼې لۀ مېنځه تلي دي ۔ د فارسۍ په برخه کښې یوه رساله په "عملیات و تعویذات" هم مشتمل ده چې د شېخ عبدالقادر جیلاني د فرموداتو په رڼا کښې مختلف عملیات او تعویذات نقل شوي دي ۔ په دې کښې د دښمن د هلاکت، په دښمن د بریا ، زبان بندۍ او عشق و محبت په حقله مختلف عملیات او د دې ترتیب او طریقه ښودلې شوې ده ۔ د فارسۍ په برخه

کښې ځینې داسې ابیات هم لۀ نظره کیږي چې د حاجي ابراهیم خپل تخلیق ښکاري ـ په دې کښې په ځینې ابیاتو کښې د هندي کلینډر میاشتې بیان کړے شوي دي او د هرې میاشتې سره د برجونو نشاندهي هم شوې ده ـ دلته دا خبره هم د یادولو وړ ده چې د حاجي ابراهیم د یو غزلیه کلام نه علاوه نور د فارسۍ کلامونه ضائع شوي دي ـ د یو پوره غزل نما کلام نه وړاندې د یو غزلیه کلام مقطع په شروع کښې راغلې ده او دغه شان لۀ دې نه وروستو د راروان کلام مطلع راغلې ده ـ د پوره غزلیه کلام د دې لاندې مقطعې نه هم داسې څرګندیږي چې حاجي ابراهیم د فارسۍ شاعرۍ هم کړې ده ولې خو ضائع شوې ده:

چون ابراهیم این ابیات را گفت

بود اورادش مجروح دو نیم[38]

## ● د پښتو برخه:

د "معراج العارفین" د مطالعې نه دا جوتیږي چې حاجي ابراهیم یو ښۀ شاعر او ادیب هم وۀ او د دې سره سره یو مورّخ، محقق او نقاد هم وۀ ـ په "معراج العارفین" کښې د پښتو ابیاتو د برخې نه علاوه د پښتو نثر یو نمونه هم موجود ده ـ د قصیده "بانت سعاد" په تشریح کښې د سوره المائده د یو آیت په ضمن کښې د پښتو نثر دا مختصر عبارت هم لیکلے شوے دے چې:

"هیڅ نشته بې لۀ تا جمالیت کمالیت، زۀ ذاتاً صفتاً قائم په حق یم ـ دا واړه قابلیت ذاتیه دي چې په دا سره ئې ظهور کړي دي ـ بې کیف خداے لۀ ما سره دے ـ الله حاضري الله شاهدي الله یعني خود په خود حضور دے خداے حضور دے، مجلس خاص احاطۀ ذاتیه"ـ[39]

د "معراج العارفین" د پښتو ابیاتو یوه برخه په طویل غزل نما نظم یا مسلسل غزل مشتمل ده ـ د دې طویل غزل نما نظم د مندرجاتو د مطالعې نه داسې څرګندیږي چې د پښتو ابیاتو د دې برخې ځینې برخې لۀ مېنځه تلي دي، ځکه چې په دې لګېدلي رکابونه د راروان مخ سره سمون نۀ خوري ـ بهرحال د دې طویل غزل نما نظم کُل دوه نوي شعرونه په دې برخه کښې شتون لري چې زیات تر عرفاني او اخلاقي شعرونه دي ـ د دې طویل غزل نما نظم اغاز لۀ دې صوفیانه او عارفانه شعرونو نه شوے دے:

ما چې ولیدې د پیر کاکل تار تار نن
پر بارخو مې اوښې تویې شوې دوبار نن
لهٔ اوله په حېرت شوم چې دا بخت مې
وهٔ لهٔ کومه چې خپل پیر شه راکنار نن[40]

په دې طویل غزل نما نظم کښې مختلف اسلامي تاریخي واقعاتو ته اشارې شوي دي چې د تلمیح غوره مثالونه دي ـ لکه د حضرت ابراهیم علیه السلام، حضرت یعقوب علیه السلام او حضرت موسي علیه السلام په حقله دا لاندې شعرونه ئې په خپل شالید کښې پوره واقعات لري:

د خلیل په دود زهٔ کېښناستم په اور کښې
کهٔ خدا ے وکاندې غه اور په ما گلزار نن
د یعقوب په دود مې دواړه لېمهٔ سپین
شو
د یوسف نعرې وهمه پر هر کار نن
د موسي په دود اَرِیني نعرې وهم
چې زهٔ غواړمه دلې وَته دیدار نن[41]

لهٔ دې نه علاوه ئې په دې طویل غزل نما نظم کښې د حضرت یوسف علیه السلام پوره واقعات هم منظوم کړې دي ـ د حضرت یوسف علیه السلام د حالاتو سره سره پکښې د حضرت یعقوب علیه السلام کېفیات هم منظوم شوي دي ـ د حضرت یعقوب علیه السلام او حضرت یوسف علیه السلام سره متعلقه په دې شعرونو کښې د دوي د قلبي احساساتو اظهار هم داسې پېرائیه کښې شوے دے چې پوره جاذبیت لري ـ دغه شان د حسېن بن منصور حلاج سره هم په یو حواله عقیدت لري او ځان ته "منصورِ ثاني" وائي ـ لکه چې وائي:

زهٔ منصورِ ثانیه په جهان راغلم
همېشه دے "انا الحق" زما گفتار نن

د ليدو نۀ ليدو نۀ وايم اے خلقه
کۀ منصور چرې زۀ نۀ شمه په دار نن
وا به نۀ وړم ستا لۀ لورې اے دلبره
کۀ مې وکاندې په دا وېنا په دار نن
عاشق اووت په دنيا لۀ دواړه کَونو
بې ديدنه ئې نور څۀ نۀ دي پکار نن[42]

د حاجي ابراهيم په دې طويل غزل نما نظم کښې قراني آيتونو او حديثونو ته اشارات هم موجود دي ـ لکه د حضرت محمد صلي الله عليه و اله وسلم دې حديث مبارک چې: "الدنيا سجن المؤمن و جنة الکافر"ـ ته ئې په دې شعر کښې داسې اشاره کړې ده:

دا دنيا بندي خانه تۀ پکښې بند ئې
څۀ رنګ وشوې لۀ دې بنده پر کنار نن[43]

د دې طويل غزل نما نظم زياته برخه د خپل پير و مرشد ميا يار محمد پاپيني په مدحه او ستائينه مشتمل ده ـ د هغۀ په بېلتانۀ کښې بې قراره او بې کېفه ښکاري او مدام د هغۀ ستائينه په داسې پېرائيه کښې کوي چې عقيدت او محبت پکښې ښرګند وي ـ لکه چې فرمائي:

شپه و ورځ دا مناجات کووم وَ ربّ ته
کۀ مې وليدې د خپل مرشد مزار نن
تا چې کوچ لۀ دنيا کړو مقصود دې دا وۀ
کۀ مې وليدې د يار نقش و نګار نن[44]

حاجي ابراهيم د خپل پير و مرشد ميا يار محمد پاپيني په مړينه او بېلتانۀ ډېر غمژن ښکاري ـ دغه شان د هغۀ په توصيف او تعريف کښې ئې ګڼ شمېر شعرونه وئيلي دي ـ

د بېلتانۀ قيامت مې هسې پر سَر تېر شۀ
چې هرګز مې لۀ قيامته نۀ شي ډار نن

چې په تا پسې اونۀ مرم دروغژن یم
دروغژن هسې روش هسې یې کار نن
دا مشرق مغرب د دۀ دوه نیم قدمه
د کامل هسې روش هسې اثار نن
دا مکین مکان وَ دۀ ته برابر وو
د هر چا لۀ لاسه نۀ شي هسې چار نن
کۀ تمامه دنیا وغواړم عالمه
دغه هسې مکمل نشته دوبار نن
د میا کامل صفت به څو کوومه خلقه
او د شګو شمار به څوک کوي په شمار
نن[45]

حاجي ابراهیم د طریقت او معرفت په رموز و اسرار باندې پوهه او با خبر دے ۔ داسې ښکاریږي چې په دې سلسله کښې د وصلت تر مقامه رسېدلے وي ۔

د هغو چې د وصلت پیالۍ روزي شوې
نۀ ویریږي نۀ لۀ داره نۀ لۀ خار نن[46]

د پښتو ابیاتو په دې برخه کښې ځینې فني معائب هم شتون لري ۔ لکه د دې برخې ځینې شعرونه د روان بحر نه وتلي دي چې د شعر رواني ئې په ځا ے نۀ ده پاتې شوي ۔ حاجي ابراهیم چې په "معراج العارفین" کښې د کومو مصادرو نه استفاده کړې ده نو د هرې رسالې په پائې کښې ئې د هغې حواله هم ورکړې ده ۔ په دې مصادرو کښې مختلف تفسیرونه، دیوانونه، د احادیثو، فقهې او تصوف کتابونه شامل دي ۔ د دې نه دا خبره هم ډاګیزه کیږي چې حاجي ابراهیم د لوړې پائې عالم، با عمله صوفي او شاعر و ادیب وۀ ۔ په "معراج العارفین" کښې د دې لاندې مصادرو نه استفاده شوې ده: القران الکریم، صحیح البخاري، تفسیر معالم التنزیل، تفسیر یعقوب چرخي، تفسیر مجیز، الفقه الاکبر، نافع المسلمین، روض الانیق في فضل الصدیق، مجموع الخاني في عین المعاني، نزهت

الارواح، مفاتیح الجنان، نفحات الانس، نصاب الصبیان، تاریخ فېروزشاهي، جواهرالاسرار، ارشادالطالبین، ارشادالمتعلمین، کفایه شعبي، مجلس العظیم، حرزالعاشقین، دیوانِ جامي، دیوانِ قدسي ـ لۀ دې علاوه ئې د خپلې مدعا د پخلي د پاره ځاے په ځاے د عربۍ او فارسۍ د مختلفو شاعرانو ابیات او رباعیات هم راوړي دي ـ دغه شان ئي د مختلفو مفکرینو او مشاهیرو اقوال هم راوړي دي چې د حاجي ابراهیم علمي رتبه او ادبي مقام واضحه کوي ـ

**حوالې:**

[1] اخونخېل، میا عبدالرشید، تذکره علماء کبار و مشائخ عظام، مکتبه غوثیه مدین سوات، د چاپ کال نۀ لري، ص: ۲۰۰

[2] حاجي ابراهیم، معراج العارفین (قلمي)، مملوکه: مولوي رحیم سید، سېرۍ چکدره دیر، ص: ۱۶۰

[3] اثر افغاني، قاضي عبدالحلیم، تېر هېر شاعران، پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي، اپرېل ۱۹۶۳ء، ص: ۶۴

[4] ملا صفی اللہ، نظم الدرر فی سلک السیر، اردو ترجمہ دڑ اسرار، مترجم: عبدالرزاق کوثر، صاحبزادہ بک فاؤنڈیشن کوٹھہ، اشاعت اول ۱۹۸۵ء، ص: ۱۹۴

[5] اثر افغاني، قاضي عبدالحلیم، تېر هېر شاعران، ص: ۶۶

[6] اثر افغاني، عبدالحلیم، حافظ الپورۍ، مشموله: قند، پریمئیر شوګر ملز مردان، جنوري / فروري ۱۹۷۳ء، ص: ۲۴

[7] حاجي ابراهیم، معراج العارفین (قلمي)، ص: ۱۵۲

[8] بدخشی، شیخ محمد امین، مناقب الحضرت، مترجم: ڈاکٹر صاحبزادہ معین نظامی، خانقاہ فتحیہ گلہار کوٹلی آزاد کشمیر، ۲۰۰۲ء، ص: ۲۹۷

[9] حاجي ابراهیم، معراج العارفین (قلمي)، ص: ۴۷۸

[10] همدغه ماخذ، ص: ۴۷۹

[11] همدغه ماخذ، ص: ۳۷۹

[12] بدخشی، شیخ محمد امین، مناقب الحضرات، مترجم: ڈاکٹر صاحبزادہ معین نظامی، ص: ۴۷۲

[13] حاجي ابراهیم، معراج العارفین (قلمي)، ص: ۱۶۱

[14] دیناخېل، ډاکټر محمد علي، د سوات پښتو ادب او ثقافت، د افغانستان د علومو اکاډمي، ۲۰۲۰ء، ص: ۱۴۸

[15] کاکاخېل، میا حسیب ګل، بیاض (قلمي)، ۱۳۰۵ هجري، ص: ۲۱۸

[16] پادري هیوز، کلید افغاني، مفید عام مطبع لاهور، ۱۸۹۳ء، ص: ۳۸۹

[17] حبیبي، عبدالحی، پښتانۀ شعراء، وړومبے ټوک، یونیورسټي بک ایجنسي پېښور، د چاپ کال نۀ لري، ص: ۱۵۷

[18] اثر افغاني، قاضي عبدالحلیم، تېر هېر شاعران، ص: ۶۵

[19] زلمے هېواد مل، د پښتو د ادبي تاریخ خطي منابع، د افغانستان د علومو اکادیمي، ۱۹۸۷ء، ص: ۵۶

[20] دوست، شریف الله، د علومو اکاډمي د پښتو خطي نسخو څېړنه، د افغانستان د علومو اکاډمي، ۱۳۹۹، ص: ۲۲۴

[21] فہرست مخطوطات، مرتبین: ڈاکٹر عارف نسیم وعبدالحمید، پشتو اکیڈیمی پشاور یونیورسٹ، ۲۰۱۱ء، ص: ۵۷۳

[22] روهیال، مطیع الله، ضمیمه، مشموله: پښتانۀ شعراء، علامه رشاد خپرندویه ټولنه، ۲۰۱۲ء، ص: ۱۰۸۱

[23] دوست، شریف الله، د علومو اکاډمي د پښتو خطي نسخو څېړنه، ص: ۲۲۵

[24] ابراهیم، د زقوم قیصه (قلمي)، د افغانستان د علومو اکېډیمي، نمبر: ۱۳۸۷۵

[25] اثر افغاني، قاضي عبدالحلیم، تېر هېر شاعران، ص: ۶۹

[26] حاجي ابراهیم بابا، قصه سیف الملوک (قلمي)، عجائب خانه پېښور خېبر پښتونخوا، ۱۱۰۰هجري

[27] حاجي ابراهیم بابا، قصه سیف الملوک (قلمي)

[28] فهرست مخطوطات، مرتبین: ډاکټر عارف نسیم وعبدالحمید، ص: ۵۸۳

[29] د مولوي رحیم سید سره مرکه، سبړی چکدره کوز دیر، ۳۱ مارچ ۲۰۲۴ء

[30] حاجي ابراهیم، معراج العارفین (قلمي)، ص: ۰۱

[31] همدغه ماخذ، ص: ۲۵۸

[32] همدغه ماخذ، ص: ۱۴۰

[33] همدغه ماخذ، ص: ۳۵

[34] همدغه ماخذ، ص: ۰۲

[35] همدغه ماخذ، ص: ۳۸۹

[36] همدغه ماخذ، ص: ۵۴

[37] همدغه ماخذ، ص: ۹۵

[38] همدغه ماخذ، ص: ۴۳۳

[39] همدغه ماخذ، ص: ۱۴۰

[40] همدغه ماخذ، ص: ۳۷۸

[41] همدغه ماخذ، ص: ۳۷۹

[42] همدغه ماخذ، ص: ۴۷۸

[43] حیمدغه ماخذ، ص: ۱۵

[44] همدغه ماخذ، ص: ۱۵

[45] همدغه ماخذ، ص: ۱۶

[46] همدغه ماخذ، ص: ۱۵

**References:**


1. Akhunkhail, Mian Abdurrashid, Tazkira Ulama-e-Kibar wa Mashayikh-e-Izzam, Maktaba Ghausia Madyan Swat, N.D., P. 200
2. Haji Ibrahim, Mirajul-Arifeen, (Qalmi), Property: Maulvi Rahim Said, Serai Chakdara, P. 160
3. Asar Afghani, Qazi Abdulhalim, Teer Hair Shairan, Pakhto Academy Peshawer University, April 1963, P. 64
4. Mulla Safiullah, Nazmudurar Fi Silkisair, Mutarjim: Abdurrazaq Kawsar, Sahizada Book Foundation Kotah, 1985, P. 194
5. Asar Afghani, Qazi Abdulhalim, Teer Hair Shairan, P. 66
6. Asar Afghani, Abdul Halim, Hafiz Alporai, Mashmula: Qand, Premier Sugar Mills, Mardan, January/February 1973, P. 24
7. Haji Ibrahim, Mirajul-Arifin (Qalmi), P. 152
8. Badakhshi, Shaikh Muhammad Amin, Manaqib al-Hazrat, Mutarjim: Dr. Sahibzada Muin Nizami, Khanqah Fathia, Gulhar, Kotli Azad Kashmir, 2002, P. 297
9. Haji Ibrahim, Mirajul-Arifin (Qalmi), P. 478
10. Ibid, P. 479
11. Idid, P. 379
12. Badakhshi, Shaikh Muhammad Amin, Manaqib al-Hazrat, Mutarjim: Dr. Sahibzada Muin Nizami, P. 472
13. Haji Ibrahim, Mirajul-Arifin (Qalmi), P. 161

14. Dinakhel, Dr. Muhammad Ali, Da Swat Pashto Adab aw Saqafat, Da Afghanistan da Uloomo Academy, 2020, P. 148
15. Kakakhel, Mian Haseeb Gul, Bayaz (Qalmi), 1305 Hijri, P. 218
16. Padre Hughes, Kalid Afghani, Mufid-e-Aam Matba, Lahore, 1893, P. 389
17. Habibi, Abdul Hai, Pakhtanah Shu'ara, Worombay Tok, University Book Agency, Peshawar, N.D., P. 157
18. Asar Afghani, Qazi Abdul Halim, Ter Her Sha'iran, P. 65
19. Zalmay Hewadmal, Da Pashto da Adabi Tarikh Khati Manabi, Da Afghanistan da Uloomo Academy, 1987, P. 56
20. Dost, Sharifullah, Da Uloomo Academy da Pashto Khati Naskho Tsherana, Da Afghanistan da Uloomo Academy, 1399, P. 224
21. Fehrist-e-Makhtutat, Murattibeen: Dr. Arif Naseem wa Abdul Hameed, P. 573
22. Rohiyal, Mutiullah, Zamima, Mashmula: Pakhtanah Shu'ara, Allama Rashad Khparandoya Tolana, 2012, P. 1081
23. Dost, Sharifullah, Da Uloomo Academy da Pashto Khati Naskho Tsherana, P. 225
24. Ibrahim, Da Zaqqum Qissa (Qalmi), Da Afghanistan da Uloomo Academy, No. 13875
25. Asar Afghani, Qazi Abdul Halim, Ter Her Sha'iran, P. 69
26. Haji Ibrahim Baba, Qissa Saif-ul-Maluk (Qalmi), Ajaib Khana, Peshawar, Khyber Pakhtunkhwa, 1100 Hijri
27. Haji Ibrahim Baba, Qissa Saif-ul-Maluk (Qalmi)
28. Fehrist-e-Makhtutat, Murattibeen: Dr. Arif Naseem wa Abdul Hameed, P. 583
29. Da Molvi Rahim Syed Sara Marka, Serai, Chakdara, Koz Dir, 31 March 2024.
30. Haji Ibrahim, Miraj al-'Arifin (Qalmi), P. 01
31. Idid, P. 258
32. Ibid, P. 140
33. Ibid, P. 35
34. Ibid, P. 02
35. Ibid, P. 389
36. Ibid, P. 54
37. Ibid, P. 95
38. Ibid, P. 433
39. Ibid, P. 140
40. Ibid, P. 378
41. Ibid, P. 379
42. Ibid, P. 478
43. Ibid, P. 15
44. Ibid, P. 15
45. Ibid, P. 16
46. Ibid, P. 15